حمدونه او نعتونه ﷺ په کتاب کښې

# لعلونه

## په کتاب کښې

ليکوال

**مولانا احمدعلی مردانی**

ناشر

اسلامی ادبی ټولنه

مردان خيبرپختونخوا

بسم الله الرحمٰن الرحيم

وصلى الله على النّبىّ الامّىّ

# حمد باری تعالیٰ

شريك نۀ لري تنها دے

يو اَلله دے يو الله دے

هر صفت سره بالا دے

يو اَلله دے يو الله دے

هر صفت ئې دَ كمال دے

پټ له هرچا نه هرحال دے

پاك نظير نه له مثال دے

داسې ذات دا ذوالجلال دے

دَ هرچا مشكل كشا دے

يو اَلله دے يو الله دے

په صفت سره رحيم دے
صفتونو کښې عظيم دے
قدردانه دے کريم دے
هم حکيم دے هم حليم دے
دا مالك زما او ستا دے
يو اَللّٰه دے يو اللّٰه دے
پيدا کړی ئې سيندونه
رنګ په رنګ دی ډير ځيزونه
ميدانونه ، ځنګلونه
رنګ په رنګ دا موسمونه
پاك زوال نه له فنا دے
يو اَللّٰه دے يو اللّٰه دے
انبياء ورته محتاج دی
اولياء ورته محتاج دی

شاه ، ګدا ورته محتاج دی
علماء ورته محتاج دی
دَ شاهانو په سر شاه دے
يو اَللّٰه دے يو اللّٰه دے
ثناخوان ئې تول جهان دے
دا حيوان دے کۀ انسان دے
حق کتاب ئې دا قرآن دے
زما دې باندې ايمان دے
ستا احمده ! بيان دا دے
يو اَللّٰه دے يو اللّٰه دے

.........................

ليکوال

مولانا احمدعلی مردانی

ساکن خوره بانډه مردان

# حمد باری تعالیٰ

ښه درنه ده ښه درنه ده
دَ اللّٰه ښکلې نامه ده
په دې زړونه ټول رغيږی
حاجتونه پوره کيږی
ښه شيرينه ، ښه خوږه ده
دَ اللّٰه ښکلې نامه ده
ښه وزنی په هر مقام دا
تل منی به خاص اوعام دا
نورانی ، توله فائده ده
دَ اللّٰه ښکلې نامه ده
هر يو غم لره علاج
ټول عالم لره علاج

دَ محشر درنه توښه ده
دَ اللّٰه ښکلې نامه ده
ستا کوی تل حفاظت
هر طرف ته هر ساعت
دَ ابلیس نه کۀ خطره ده
دَ اللّٰه ښکلې نامه ده
وزن ډیر لری له غرونو
هم له زمکو آسمانونو
دَ جنت ښه وسیله ده
دَ اللّٰه ښکلې نامه ده
زنګ په دې دَ زړۀ صفاکړه
یاده دا نامه بیا بیا کړه
دَ فلاح ښه ذریعه ده
دَ اللّٰه ښکلې نامه ده

دَ سحر سره ماښام
وظيفه کړه تل مدام
مزيداره وظيفه ده
دَ اللّٰه ښکلې نامه ده
ثوابونه لری ډير
نشی نشی درنه هير
په شيطان باندې حمله ده
دَ اللّٰه ښکلې نامه ده
ورسره کړه محبت
اے احمده ! هر ساعت
ډيره لويه ئې بدله ده
دَ اللّٰه ښکلې نامه ده

ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی
فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوری ټاؤن کراچی

# حمد باری تعالیٰ

هغه مالك زما او ستا ، هغه رازق دے دَ هرچا
هغه نه سوال کوه دُعا ، هغه زمونږ حاجت روا
هغه خبر له هر خبر، په هریو څیز لری نظر
هغه خالق دَ پاس قمر، هغه خالق دَ رڼا نمر
پوره منل دلته دی دا ، حقه وینا پوره صفا
هغه نه سوال کوه دُعا ، هغه زمونږ حاجت روا
یو دې پوره پوره په ذات ، لائق زمونږ دَ عبادات
کامل هغه په ټول صفات ، بدلوی دا موسم حالات
منل دی دا حقه وینا ، مالك دَ ورځې دَ جزا
هغه نه سوال کوه دُعا ، هغه زمونږ حاجت روا
هغه نه پټ نه دے جهان ، ورته هرڅیز پوره عیان
وحې ئې دلته کښې قرآن ، اهم حصه ده دَ ایمان
پوره پوره حُسن ښکلا ، دَ لارې نور رڼا رڼا
هغه نه سوال کوه دُعا ، هغه زمونږ حاجت روا

مالك هغه دَ هراسمان ، خالق هغه دَ ټول جهان
دلاندې زمکې دَ ميدان ، دَ اُوچت غر دَ بيابان
صفت هريو لري اعلا، زمونږه ربّ زمونږ مولا
هغه نه سوال کوه دُعا ، هغه زمونږ حاجت روا
ذکر ئې تل دَ زړهٔ سکون ، ښکلا رڼا د دي ژوندون
ورسره ښکلې شی مضمون ، ښکلې دننه شی بيرون
ذکر ئې خوندکوی بيا بيا ، احمده ! دلته کښې هرخوا
هغه نه سوال کوه دُعا ، هغه زمونږ حاجت روا

ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی
فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی
ساکن يونيورسټي روډ خوره بانډه مردان
0312-9818511/03208086524

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هر ځائې رڼا رڼا دے
راغلے مصطفیٰ ﷺ دے
ابليس په غم ژړا دے
راغلے مصطفیٰ ﷺ دے
برکت ورسره راغے
رحمت ورسره راغے
عزت ورسره راغے
عظمت ورسره راغے
ظلمت روان په شا دے
راغلے مصطفیٰ ﷺ دے
راوړي ئې قرآن دے
دَ ستور دَ ټول جهان دے

زما په دې ايمان دے
كلام دَ پاك سبحان دے
هادي دے رهنما دے
راغلے مصطفیٰ ﷺ دے
په امن هريو كور شو
ختم دَ شيطان زور شو
دَ هر شيطان مخ تور شو
مړ بل دَ ظلم اُور شو
راغلے مجتبیٰ ﷺ دے
راغلے مصطفیٰ ﷺ دے
سكون شو اطمينان شو
ورك زړونو نه حفګان شو
بدل دا ټول جهان شو
سپرلې په هر مكان شو

پيدا زما آقا ﷺ دے

راغلے مصطفیٰ ﷺ دے

اعلا درنه مکه شوه

حسينه مدينه شوه

رڼا هره کوڅه شوه

پوره دَ ربّ وعده شوه

راغلے خير خوا دے

راغلے مصطفیٰ ﷺ دے

درود دے سلامونه

بيدار شول مړهٔ زړونه

تازه شول يادونه

اعلا شول وختونه

ممتاز په هر ادا دے

راغلے مصطفیٰ ﷺ دے

هرخوا دی رحمتونه

حسين شول محفلونه

احمده! تول کورونه

رڼا شول آسمانونه

ژوندون کښې حُسن بيا دے

راغلے مصطفیٰ ﷺ دے

هرګل ښه په خندا دے

راغلے مصطفیٰ ﷺ دے

ليکوال

## مولانا احمدعلی مردانی

ساکن خوره بانډه مردان

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مياشت دَ حضور ﷺ مبارك دَ ولادت ده
عظيمه ډيره لويه په دې نسبت ده
په كښې حضور راغلے ، غمخوار دَ ټولو خلقو
حضورپرُنور راغلے ، دلدار دَ ټولو خلقو
مياشت دَ انوارو ډكه تل هرساعت ده
مياشت دَ حضور ﷺ مبارك دَ ولادت ده
د خوشحالې خبره زمونږ دَ ټولو دا ده
دخوشحالي خبره ښكاره صفا صفا ده
دَ خوشحالو نه ډكه مياشت دَ رحمت ده
مياشت دَ حضور ﷺ مبارك دَ ولادت ده
بدلون هرخوا راغلے په هر قدم ورسره
سكون هرخوا راغلے په ټول عالم ورسره

دَ خوشحالۍ خبره د تول اُمّت ده
مياشت دَ حضور ﷺ مبارك دَ ولادت ده
دَ تول عرب دَ پاره ، دَ تول عجم دَ پاره
زيرې زمونږه نبى ﷺ دَ تول عَالم دَ پاره
مياشت ښه سبق دَ پاره دَ اُخوّت ده
مياشت دَ حضور ﷺ مبارك دَ ولادت ده
نوم ئې كله راشي درود سلام ووايه
ډير په ادب احمده! پوره تمام ووايه
خوشبو خوشبو دا توله په پاك سيرت ده
مياشت دَ حضور ﷺ مبارك دَ ولادت ده

ليكوال

## مولانا احمدعلى مردانى

ساكن خوره بانډه مردان

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سیورې دَ آقا ﷺ چې وی نور څۀ غواړے
دین دَ مصطفیٰ ﷺ چې وی نور څۀ غواړے
نور دَ شریعت چې درسره وی مَل
حق نورانیت چې درسره وی مَل
داسې نور رڼا چې وی نور څۀ غواړے
سیورې دَ آقا ﷺ چې وی نور څۀ غواړے
نور چې سنت وی نو کافی تمام
نور چې دَ حضرت ﷺ وی نو کافی تمام
حق سره وفا چې وی نور څۀ غواړے
سیورې دَ آقا ﷺ چې وی نور څۀ غواړے
حق سره قرآن سره چې مینه وی
زړۀ کښې دَ رحمٰن سره چې مینه وی
دغه په دُنیا چې وی نور څۀ غواړے

سيورې دَ آقا ﷺ چې وی نور څۀ غواړے

سيورې دَ آقا ﷺ چې وی نور څۀ غواړے

در چې دَ نبی ﷺدرته نصيب شی نن

در چې حق عالی درته نصيب شی نن

داسې قسمت ستا چې وی نور څۀ غواړے

سيورې دَ آقا ﷺ چې وی نور څۀ غواړے

سحر هم مابنام تلاوتونه کړے

وائے درودونه ، سلامونه کړے

دا عادت اعلا چې وی نور څۀ غواړے

سيورې دَ آقا ﷺ چې وی نور څۀ غواړے

حق سره چې هرساعت ملګرے ئې

باطل نه احمده ! ته چې لرے ئې

ښکلې بيا فضا چې وی نور څۀ غواړے

سيورې دَ آقا ﷺ چې وی نور څۀ غواړے

ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی فاضل جامعة بنوری ټاؤن کراچی

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په عشق کښې مبتلا دَ مدينې په طرف ځي
روان هغه بشر دے دَ روضې په طرف ځي

په خيال او تصور کښې مخامخ لري روضه
په خيال او تصور کښې دے روان بنۀ په جذبه
خوشبولره هغه دَ باغيچې په طرف ځي
روان هغه بشر دے دَ روضې په طرف ځي

سکون لري په زړۀ هر طرف ته په عالَم
سکون لري په زړۀ کښې په عرب او په عجم
ديدن لري هغه دَ ګلدستې په طرف ځي
روان هغه بشر دے دَ روضې په طرف ځي

په ژبه ئې درود دے هم په ژبه ئې سلام
اخلی تول قدمونه په ادب او احترام
دُنيا کښې دَ جنت چې د ټکړې په طرف ځي

روان هغه بشر دے دَ روضې په طرف ځی
له حاله ئې خبر دے يو خالق ددې جهان
څه حال لری احمده ! دلته هغه مسلمان
چې دلته دَ انوارو دَ چينې په طرف ځی
روان هغه بشر دے دَ روضې په طرف ځی

ليکوال
مولانا احمدعلی مردانی
فاضل جامعة العلوم الاسلاميه
علامه محمديوسف بنوری ټاؤن کراچی

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خاتم دَ انبياء شو ، آخرين جوړ شو

هرڅيز په مصطفیٰ ﷺ سره حَسين جوړ شو

يقين په دې ساتمه عقيده لرمه دا

يقين په دې ساتمه نظريه لرمه دا

هرڅيز ورسره هرخوا بهترين جوړ شو

خاتم دَ انبياء شو ، آخرين جوړ شو

قرآن ئې معجزه ده زما دې باندې ايمان دے

اعلا ئې هر جمله ده زما دې باندې ايمان دے

د ډيرو خلقو دې سره يقين جوړ شو

خاتم دَ انبياء شو ، آخرين جوړ شو

تيارے دَ جهالت ورسره هرخواته په شاشو ے

تيرے دَ ضلالت ورسره هرخواته په شا شو ے

منظر له هر منظر نه ډير حسين جوړ شو

خاتم دَ انبياء شو ، اٰخرين جوړ شو

سپرلي په هر قدم شو د دُنيا په هر طرف

سپرلي په ټول عالم شو د دُنيا په هر طرف

ماحول په برکت ټول دَ يٰسين جوړ شو

خاتم دَ انبياء شو ، اٰخرين جوړ شو

مکه مکرمه شوه ، مدينه منوره

دُنيا کښې اے احمده ! هرحصه منوره

باعث د دې امام المرسلين ﷺ جوړ شو

خاتم دَ انبياء شو ، اٰخرين جوړ شو

ليکوال

## مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف

بنوری ټاؤن کراچی

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مدينه خومدينه ده ...ځکه ښار مې دَ جانان ﷺ دے

مدينه خو مدينه ده ... ځائې دَ امن اطمينان دے

ورته تلل غوارمه دلته ..........دا په زړه لرم ارمان

ورته تلل غوارمه دلته .. ......دا دُعا کړم له رحمٰن

مدينه خو مدينه دے ... دَ نور دلته کښې باران دے

مدينه خومدينه ده ...ځکه ښار مې دَ جانان ﷺ دے

دَ اصحابؓ دے هغه کلي .. ورته تلل غوارمه ځکه

کلی ډير زيات دے ښکلي ...ورته تلل غوارمه ځکه

مدينه خو مدينه ده ..... ډير اُوچت لرونکے شان دے

مدينه خومدينه ده ...ځکه ښار مې دَ جانان ﷺ دے

په کښې هرطرف ته هلته دَ خوشبوئی دَ پيغمبر ﷺ ده

تيره شوي ډيره دلته..زندګی دَ پيغمبر ﷺ ده

مدينه خو مدينه ده ....نازل دلته کښې قرآن دے

مدينه خومدينه ده ...ځکه ښار مې دَ جانان ﷺ دے

دَ صديقؓ عمرؓ وطن ...په کښې ډير ډير سلامونه

دَ علی حيدرؓ وطن ....... په کښې ډير ډير درودنه

مدينه خو مدينه ده .....دردَ حضرت عثمانؓ دے

مدينه خومدينه ده ...ځکه ښار مې دَ جانان ﷺ دے

ځائې دَ قدر احترام ...... اے احمده ! په دُنيا کښې

ځائې دَ قدر احترام ........ثانی نه لرى ښُکلا کښې

مدينه خو مدينه ده ....... حق دا ټول بره بيان دے

مدينه خومدينه ده ...ځکه ښار مې دَ جانان ﷺ دے


ليکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف

بنوری ټاؤن کراچی

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

## په مدینه کښې دَ حضور ﷺ استقبال

دَ مدینې خلقو وئیل آقا ﷺ راتلو والا دے
ماحول ورسره هرطرف ته بدلیدووالا دے
دښمنې ختمې ورسره به دَ جهان دلته شی
ماحول به ټول پوره پوره دَ اطمینان دلته شی
دَ اُخوت سبق دُوی ټولو ته ښودووالا دے
ماحول ورسره هرطرف ته بدلیدووالا دے
خوشبو خوشبو به شی ماحول دَ مدینې دَ در
خوشبو خوشبو به شی ماحول دَ هرکوڅې دَ در
په حاسدانو باندې اُور اُوس بلیدووالا دے
ماحول ورسره هرطرف ته بدلیدووالا دے
په رڼاګانو کښې به پټه مدینه شی ټوله
په رڼاګانو کښې به پټه هر کوڅه شی ټوله
ځکه حضور ﷺ په مدینه کښې اُوسیدووالا دے
ماحول ورسره هرطرف ته بدلیدووالا دے
هریو شیطان په غم ژړا کښې مبتلا ورسره

هريو شيطان په غم ژړا کښې په دُنيا ورسره
هريو شيطان په شيطانت کښې کړيدو والا دے
ماحول ورسره هرطرف ته بدليدووالا دے
په انتظار ورته وو تهول دَ مديني مشران
په استقبال ورته وو تهول دَ مديني کشران
بت له هرځائي نه دَ باطل زر غُرځيدووالا دے
ماحول ورسره هرطرف ته بدليدووالا دے
سبق دَ ميني محبت به ورسره ښه عام شي
غالب چې کله دَ رسول اللهﷺ حق دين تمام شي
دَ اسلام نُور رُو رُو هرخوا ته خوريدووالا دے
ماحول ورسره هرطرف ته بدليدووالا دے
واقعه ذکر دَ هجرت کړله احمدعلي نن
واقعه ذکر دَ سيرت کړله احمدعلي نن
زمونږ نه کله دا سبق نن هيريدو والا دے
ماحول ورسره هرطرف ته بدليدووالا دے

ليکوال

مولانا احمدعلي مرداني

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچي

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مدينه خو مدينه ده ...دا وطن دَ مصطفیٰ ﷺ دے

وطنونو کښې له ټولو ښه اوچت دے ښۀ بالا دے

دا وطن دَ پيغمبر ﷺ دے

دا وطن دَ نُور سحر دے

دا وطن مې د دلبر دے

هر مقام ئې معطَر دے

مدينه خو مدينه ده ... ورسره چې څوك اشنا دے

وطنونو کښې له ټولو ښه اوچت دے ښۀ بالا دے

دا وطن دَ اصحابؓ دے

بهترين دے لاجواب دے

نازل دلته حق کتاب دے

چې لوستلو کښې ئې ثواب دے

مدينه خو مدينه ده ........ مسکن دا دَ اولياء دے

وطنونو کښې له ټولو ښه اوچت دے ښۀ بالا دے

دَ صديقؓ عمرؓ عثمانؓ

وطن دا هم دَ حسّان

يو چمن په دي جهان

له هر شر نه په امان

مدينه خو مدينه ده ........دا وطن دَ مرتضیٰ ؓ دے

وطنونو کښې له ټولو ښه اوچت دے ښۀ بالا دے

خوشبوداره ئې فضا ده

خوشبوداره ئې هوا ده

دلته هرخواته وفا ده

دلته هرخواته رڼا ده

مدينه خومدينه ده........خوښ وطن دَ علماء دے

وطنونو کښې له ټولو ښه اوچت دے ښۀ بالا دے

دَ جنت يوه ټکړه ده

څومره ښکلي ئې نامه ده

دَ ژوندون دلته مزه ده

دَ ګلونو ګلدسته ده

مدينه خو مدينه ده ..خوښ وطن احمده ستا دے

وطنونو کښې له ټولو ښه اوچت دے ښۀ بالا دے

ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوری ټاؤن کراچی

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ما تذکره چې په ښه شان کړے ده
تذکره ما دَ خپل جانان ﷺ کړے ده
په ډير ادب په احترام سره ما
په درودونو او سلام سره ما
تذکره ما دَ مهربان کړے ده
تذکره ما دَ خوږجانان ﷺ کړے ده
هغه محبوب زمونږ دَ ټولو نبی ﷺ
هغه مطلوب زمونږ دَ ټولو نبی ﷺ
ما تذکره چې دَ قرآن کړے ده
تذکره ما دَ خپل جانان ﷺ کړے ده
ورسره مینه محبت ساتمه
ورسره مینه هر ساعت ساتمه
ما تذکره دَ قدردان کړے ده

تذکره ما دَ خپل جانان ﷺ کړے ده

ورسره زړونو ته سکون رسيږی
ورسره غم له ژوندانهٔ رُوکيږی
تذکره ما دَ خوږ انسان کړے ده
تذکره ما دَ خپل جانان ﷺ کړے ده

دَ انبياءو دا دَ امام تذکره
احمد کوی په احترام تذکره
تذکره خپله ئې رحمٰن کړے ده
تذکره ما دَ خپل جانان ﷺ کړے ده

ليکوال

**مولانا احمدعلی مردانی**

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مدينه تول په جانان ﷺ ښکلې ده
دا په نبی اٰخرزمان ﷺ ښکلې ده
هريو حصه ئې لکه ګل حسين
لری لری هر يو محل حسين
په هر صفت ښه عاليشان ښکلې ده
مدينه تول په جانان ﷺ ښکلې ده
په کښې اصحابؓ دَ پيغمبر ﷺ اُوسيږی
دوستان احبابؓ دَ پيغمبر ﷺ اُوسيږی
تل په صديقؓ ، عمرؓ عثمانؓ ښکلې ده
مدينه تول په جانان ﷺ ښکلې ده
سَم دَ لعلونو يو وطن دلته کښې
يا دَ ګلونو سَم چمن دلته کښې
ښه ده ښکاره پوره عيان ښکلې ده

مدينه ستوله په جانان ﷺ ښکلې ده
ښکلې ده توله دا په جار وايمه
تول دې خبر شی بار بار وايمه
ښکلې دا توله له جهان ښکلې ده
مدينه توله په جانان ﷺ ښکلې ده
په کښې سکون دے چې اُوسيږے هلته
په شوق او مينه پاتې کيږے هلته
احمده! دا په هر بيان ښکلې ده
مدينه توله په جانان ﷺ ښکلې ده

ليکوال

## مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ جانان ﷺ ښکلي نعتونه
ملغلرې دی لعلونه
دَ سيرت په کښې خبرے
دَ سنت په کښې خبرے
دَ حضور ﷺ تول صفتونه
دَ جانان ﷺ ښکلي نعتونه
بيان دې کښې دَ هجرت وی
دَ حضور ﷺ دَ ولادت وی
په سکون ورسره زړونه
دَ جانان ﷺ ښکلي نعتونه
دَ معراج واقعه ښکلې
کتابونو ده ليکلې

دليلونه حديثونه

دَ جانان ﷺ ښکلې نعتونه

د هجرت قصه ده تېوله

دَ عبرت قصه ده تېوله

عجيبه هغه وختونه

دَ جانان ﷺ ښکلې نعتونه

وسيله دَ شفاعت ده

دَ رسول ﷺ ښه دَ قُربت ده

په شوق سره سلامونه

دَ جانان ﷺ ښکلې نعتونه

وسيله هم دَ بخشش ده

ذريعه هم دَ بخشش ده

درودونه درودونه

دَ جانان ﷺ ښکلې نعتونه

دا رڼا په هر قدم ده
دا ښكلا دَ هر عَالَم ده
دَ خوشبو نه ډك ګلونه
دَ جانان ﷺ ښكلي نعتونه
دَ هرزړهٔ راحت په دې كښې
دَ محشر عزت په دې كښې
دليلونه كتابونه
دَ جانان ﷺ ښكلي نعتونه
ښهٔ توبنه دَ هر بشر ده
ښه درنهٔ په لر او بر ده
هم نيكي دی ثوابونه
دَ جانان ﷺ ښكلي نعتونه
په ليكلو كښې ئې خوند دے
په وئيلو كښې ئې خوند دے

# دَ احمد ښکلې شعرونه
# دَ جانان ﷺ ښکلې نعتونه

ليكوال

# مولانا احمدعلى مردانى

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف
بنورى ټاؤن كراچى

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلې ښار دَ مدينې په سردار ﷺ دَ مدينې
ښکلې ښکلې دا وطن په غمخوار ﷺ دَ مدينې

هر مقام ئې سم جنت ،دا بيان تول حقيقت
دا مقام عظيم اُوچت ،ورسره سکون راحت

په ديدار دَ مدينې ، په دربار دَ مدينې
ښکلې ښار دَ مدينې په سردار ﷺ دَ مدينې

ورسره خوشبو خوشبو ، خامخا به دا منو
مدينه کښې چې مونږ يُو ،خامخا به دا منو

په دلدار ﷺ دَ مدينې ، حُسندار دَ مدينې
ښکلې ښار دَ مدينې ، په سردار ﷺ دَ مدينې

دلته کښې زمونږ آقا ﷺ، ورسره رڼا رڼا
په لقب خير الوریٰ ﷺ،ورسره حُسن ښکلا

شته په جار دَ مدينې، دَ ګلزار دَ مدينې

ښکلې ښار دَ مدينې ، په سردار ﷺ دَ مدينې

ښه اعلا لری بيان ، نازل دلته کښې قرآن

اے احمده ! په جهان ، لا ثانی دے دا مکان

دروند مزار دَ مدينې ، دروند ګفتار دَ مدينې

ښکلې ښار دَ مدينې په سردار ﷺ دَ مدينې

ليکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف

بنوری ټاؤن کراچی

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خورېه له شاتو نه ښه ډېره دَ آقا ﷺ نامه ده
دا حقيقت دے چې په ټولو کښې اعلا نامه ده
دا شورو شوې چې له ميم نه او په دال ختمه ده
نامه دا ښکلې قدرمنده په جمال ختمه ده
دَ انسانانو ټولو خوښه په دُنيا نامه ده
خورېه له شاتو نه ښه ډېره دَ آقا ﷺ نامه ده
ورسره وائی دې درود چې دا نامه اخلی څوك
ځان سره ښه کۀ دَ محشر ښکلې توښه اخلې څوك
مدام له عيب نه ، له نقطو نه ښه صفا نامه ده
خورېه له شاتو نه ښه ډېره دَ آقا ﷺ نامه ده
ورسره وايه سلامونه درنه هير چې نه شی
د دې پاره چې ژوندون دَ آخرت دې ښه شی
خوښه نامو کښې ډېره زياته دَ مولا نامه ده

خوږه له شاتو نه ښه ډيره دَ آقا ﷺ نامه ده

ورسره زړونو ته سکون دَ مسلمان رسيږی

ټولو کورونو ته سکون په دې جهان رسيږی

ډيره دَ قدر محبت له ابتدا نامه ده

خوږه له شاتو نه ښه ډيره دَ آقا ﷺ نامه ده

ورسره مينه محبت لره په جار دلته کښې

ورسره ښکلې وی احمده ! هر ګفتار دلته کښې

ډيرپه ادب مدام اخستې علماء نامه ده

خوږه له شاتو نه ښه ډيره دَ آقا ﷺ نامه ده

ليکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف

بنوری ټاؤن کراچی

(ساکن خوره بانډه مردان)

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نعت دَ آقا ﷺ ليکل
خوند کوی دا ليکل
په محبت سره دا
پوره اُلفت سره دا
نعت دَ طٰهٰ ﷺ ليکل
خوند کوی دا ليکل
دی ثوابونه تول
ښکلي لفظونه تول
نعت په هر خوا ليکل
خوند کوی دا ليکل
قُرب دَ نبی ﷺ ورسره
ښه زندګی ورسره

نعت په دُنیا لیکل

نعت دَ آقا ﷺ لیکل

دَ زړۀ سکون په دې کښې

رڼا ژوندون په دې کښې

نعت حق وینا لیکل

خوند کوی دا لیکل

احمد په دې خوشحاله

مدام په کښې خوشحاله

لیکل بیا بیا لیکل

خوند کوی دا لیکل


لیکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمدیو سف

بنوری ټاؤن کراچی

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

برکتونه دَ آقا ﷺ دی په کوڅه کښي
رحمتونه راوريږی مدينه کښي
خوشبوئی ورسره ده ښکلي روضه کښي
رحمتونه راوريږی مدينه کښي
ټول اثر دَ محمد رسول الله ﷺ دے
ټول اثر دَ مصطفیٰ ﷺ دَ نور رڼا دے
ساکنان دَ مديني دی ټول فائده کښي
رحمتونه راوريږی مدينه کښي
خوش نصيبه خلق هلته کښي اُوسيږی
په ادب سره مدام ټول پاتي کيږی
ورځي شپي تيروی ښکلي باغيچه کښي
رحمتونه راوريږی مدينه کښي
نعمتونه په کښي ښکلي دَ جهان شته
موسمونه په کښي ښکلي دَ جهان شته
عجيبه ښکلي منظر هغي حصه کښي
رحمتونه راوريږی مدينه کښي

دَ اصحابوؓ په مسکن سره یادیږی
دَ رسول اللهﷺ وطن سره یادیږی
انوارات دَ عائشې بی بی حجره کښې
رحمتونه راوریږی مدینه کښې
خوشبوئی په هرقدم په کښې پرته ده
خوشبوئې دَ ټول عالم په کښې پرته ده
نه څائیږی دَ احمدعلی جمله کښې
رحمتونه راوریږی مدینه کښې
خوش نصیبه دَ حضورﷺدې باغیچه کښې
رحمتونه راوریږی مدینه کښې

ليکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمدیوسف

بنوری ټاؤن کراچی

(ساکن خوره بانډه مردان)

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مينه چې وي دَ مصطفیٰ ﷺ په زړهٔ کښې
لکه چې وي حُسن ښکلا په زړهٔ کښې
سکون دَ پاره ضروري دلته ده
زمونږ دَ ټولو زندګی دلته ده
مينه دَ سيّدُالوریٰ ﷺ په زړهٔ کښې
لکه چې وي حُسن ښکلا په زړهٔ کښې
دا په محشر دَ شفاعت ذريعه
دَ حضور مينه ﷺ دَ قُربت ذريعه
مينه لري چې دلته دا په زړهٔ کښې
لکه چې وي حُسن ښکلا په زړهٔ کښې
ښه وسيله دَ نعمتونو لويو
دا ذريعه دَ راحتونو لويو
رڼا رڼا رڼا په زړهٔ کښې
لکه چې وي حُسن ښکلا په زړهٔ کښې

چې نصيب شوے دلته کښې دَ چاوي

خامخا هغه به اعلا بالا وي

مينه دَ خپل هغې خيرخوا په زړهٔ کښې

لکه چې وي حُسن ښکلا په زړهٔ کښې

درود سلام سره زياتيږي مدام

په دې دا زړونه خوشحاليږي مدام

احمده ! مينه دَ آقا ﷺ په زړهٔ کښې

لکه چې وي حُسن ښکلا په زړهٔ کښې


ليکوال

## مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

(ساکن خوره بانډه مردان)

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلې وطن هغه عاليشان دے
چرته چې ساکن زما جانان ﷺ دے
ښکلې ئې کوڅې ښه خوشبودارې دي
ټولې نوراني ئې کوڅې لارې دي
ځائې دَ برکتونو دَ جهان دے
چرته چې ساکن زما جانان ﷺ دے
ښار دَ مدينې چې چا ليدلے دے
حُسن ئې دَ هغې ښار منلے دے
ځائې دَ رحمتونو دَ باران دے
چرته چې ساکن زما جانان ﷺ دے
شين ګنبت، حسينه ده روضه په کښې
جنت البقيع ده مقبره په کښې
نور په هر طرف په هر مکان دے
چرته چې ساکن زما جانان ﷺ دے

اخله قدمونه په ادب په کښې

تيرکړه خپل وختونه په ادب په کښې

حسين چمن ، ښکلې ګلستان دے

چرته چې ساکن زما جانان ﷺ دے

وايه سلامونه بيا درود په کښې

کله چې احمده ! ئې موجود په کښې

ځائې له هريو شر نه دَ امان دے

چرته چې ساکن زما جانان ﷺ دے

ليکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

(ساکن خوره بانډه مردان)

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

وطن کښې دَ جانان ﷺ خوشبوئې ډيرې ډيرې
دَ خوږ نبی سلطان ﷺ خوشبوئې ډيرې ډيرې

تول در دے معطر
در دَ خيرالبشر ﷺ
منی دا لر او بر
هرڅوك دی بنه خبر
لري هريو مكان خوشبوئې ډيرې ډيرې
دَ خوږ نبی سلطان ﷺ خوشبوئې ډيرې ډيرې

سکون دَ تول عالَم
مقام کښې مقدَم
ډير زيات دے محترم
منی هغه مکرَم
چمن دا قدردان خوشبوئې ډيرې ډيرې
دَ خوږ نبی سلطان ﷺ خوشبوئې ډيرې ډيرې

# دَ صديق‌ؓ او عمرؓ

خوشبو شته په در

اثر دَ پيغمبر ﷺ

دَ پاك نبي سرور ﷺ

دَ حضرت عثمانؓ خوشبوئي ډيرې ډيرې

دَ خوږ نبي سلطان ﷺ خوشبوئي ډيرې ډيرې

دَ حضرت عليؓ

خوشبو ده زندګي

خوشبو دَ صحابيؓ

احمده ! ټول منی

لري ښکلي ياران خوشبوئي ډيرې ډيرې

دَ خوږ نبي سلطان ﷺ خوشبوئي ډيرې ډيرې

ليکوال

## مولانا احمدعلي مرداني

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچي

## (ساکن خوره بانډه مردان)

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دا مې عقيده ده ښکلې ئې حسين ئې
ټولو انبياو کښې غوره بهترين ئې
غوره مقدم ئې، دا منم هر چانه
ډير ئې عاليشانه ، اے نبی سلطانه ﷺ
حق دے حقيقت دے دَ اللّٰه نيازبين ئې
دا مې عقيده ده ښکلې ئې حسين ئې
ټولې ستا خبرې ، سمې ملغلرې
دی اعلا خبرې ، سمې ملغلرې
نور ئې محبت ئې ، ډير زبان شيرين ئې
دا مې عقيده ده ښکلې ئې حسين ئې
حق رهبر دَ ټولو دلته ئې زمونږه
يو دلبر دَ ټولو دلته ئې زمونږه
دوست منمه دلته حق دَ ربّ متين ئې
دا مې عقيده ده ښکلې ئې حسين ئې

ياد په والضحیٰ ئې زه منم قرآن کښې
ياد هم په طٰه ئې زه منم قرآن کښې
ډيرې دې نامې دی ، نوم سره يٰسين ئې
دا مې عقيده ده ښکلې ئې حسين ئې
شافعِ محشر ئې دا مې عقيده ده
ښه درنه دُنيا کښې ستا هره نامه ده
څنګ چې اوّلين ئې داسې آخرين ئې
دا مې عقيده ده ښکلې ئې حسين ئې
زۀ احمد کوُومه دا بيان په جار
ليکم صفتونه دَ خيرالابرار ﷺ
هرصفت اعلا ستا ، صادق او امين ئې
دا مې عقيده ده ښکلې ئې حسين ئې

ليکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوری ټاؤن کراچی

## (ساکن خوره بانډه مردان)

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څنګه چې دی ښکلی دَ جانان ﷺ اخلاق
نۀ لری څوک داسې په جهان اخلاق
زۀ درته په جار دا حقیقت وایم
زۀ درته یو وصف دَ پاك حضرت ﷺ وایم
حضور ﷺ له ورکړی پاك سبحان اخلاق
نۀ لری څوك داسې په جهان اخلاق
ووایه قرآن کلام پوره تمام
ټول پوره اخلاق دی دَ خیر الانام ﷺ
خوښ دې کړی هم داسې مسلمان اخلاق
څنګه چې دی ښکلی دَ جانان ﷺ اخلاق
دې سره نفرت له هر مقام نه ځی
دې سره نفرت له ژوند تمام نه ځی
خوښ دې کړی بس داسې هرانسان اخلاق
څنګه چې دی ښکلی دَ جانان ﷺ اخلاق

دې سره خوشبو په هر مقام ورځی
ښکلې خوشبوئی دَ دین اسلام ورځی
نه خوښوی صرف بې ایمان اخلاق
څنګه چې دی ښکلی دَ جانان ﷺ اخلاق
ګټه د دُنیا په هر قدم دلته
احمده! ښکلا دَ هر یو چم دلته
لری فضیلت ښه اُوچت شان اخلاق
څنګه چې دی ښکلی دَ جانان ﷺ اخلاق


لیکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمدیوسف بنوری ټاؤن کراچی

(ساکن خوره بانډه مردان)

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ حضور ﷺ کلي کوڅه ده ، دَ ګلونو باغيچه ده
مدينه ده مدينه ده ، مدينه ده مدينه ده
دَ حضور ﷺ کلي مسکن دے
دَ اصحابو ؓ دا وطن دے
دَ سکون ځائي دَ امن دے
حسين ښکلي دا چمن دے
خوشبوداره ګلدسته ده ، په رتبې درنه درنه ده
مدينه ده مدينه ده ، مدينه ده مدينه ده
اعلا ښار له هر يو ښار دے
دروند ئې هرساعت ګفتار دے
کور دَ سيّدالابرار ﷺ دے
تل تسکين دَ زړهٔ قرار دے
دَ تسکين ښه وسيله ده ، دَ تسکين ښه ذريعه ده
مدينه ده مدينه ده ، مدينه ده مدينه ده

اُوسيدو له ښه وطن دے
انتخاب دَ هر يو تن دے
دَ رحمت ځائې پوره نن دے
لاثانی ښکلې ګلشن دے
دَ حضور ﷺ دا محله ده ، ښه خوږه چې ئې نامه ده
مدينه ده مدينه ده ، مدينه ده مدينه ده
خوښ دا ځائې دَ مسلمان
په کښې اُوسی عاشقان
دَ حضور ﷺ ښکلې دوستان
نه ورځی ورته شيطان
حفاظت لره قلعه ده ، ښه محفوظ په هرحصه ده
مدينه ده مدينه ده ، مدينه ده مدينه ده
مونږ منو ئې کمالات
مونږ منو ئې ټول صفات
دَ حضور ﷺ دی برکات
دلته خوند کړی عبادات

بنه اعلائي تذکره ده ، دَ احمد حقه جمله ده

مدينه ده مدينه ده ، مدينه ده مدينه ده

ليکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوری ټاؤن کراچی

(ساکن خوره بانډه مردان)

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مینه دَ آقا ﷺ سره ......... تل دې دا وی تا سره

تل دې دا وی ماسره .... زړهٔ کښې دَ هرچا سره

دا دَ خوشحالي سبب

هم دَ کاميابي سبب

مینه مصطفیٰ ﷺ سره....... حق سره وفا سره

تل دې دا وی ماسره .... زړهٔ کښې دَ هرچا سره

ورسره رضا دَ ربّ

دا ښکلې عطا دَ ربّ

مینه دَ طٰه ﷺ سره.....نور بدرالدّجیٰ ﷺ سره

تل دې دا وی ماسره .... زړهٔ کښې دَ هرچا سره

ورسره نجات زمونږ

ښکلې ښهٔ حالات زمونږ

مینه خپل خیرخوا ﷺ سره ... ښه اعلا اعلا سره

تل دې دا وی ماسره .... زړهٔ کښې دَ هرچا سره

ګټه دا زمونږ په جار

تل دَ زړونو دا قرار

مينه مجتبىٰ ﷺ سره .... دَ ژوند رهنما سره

تل دې دا وي ماسره .... زړۀ کښې دَ هرچا سره

دَ محشر عزت په دې

دَ هردر عزت په دې

مينه مقتدا ﷺ سره ....... حق سره دانا سره

تل دې دا وي ماسره .... زړۀ کښې دَ هرچا سره

ورسره سکون راځي

حُسن دَ ژوندون راځي

مينۀ ده اعلا ﷺ سره ... دَ حضور ادا ﷺ سره

تل دې دا وي ماسره .... زړۀ کښې دَ هرچا سره

دلته ده لازم پکار

هلته ده لازم پکار

سيَدالورىٰ ﷺ سره .... شفيع الورىٰ ﷺ سره

تل دې دا وي ماسره .... زړۀ کښې دَ هرچا سره

# دَ احمد حسين کلام

## ياد دې تاته وي تمام

نور سره وفا سره ........ مينه ده ريښتيا سره

تل دې دا وي ماسره .... زړهٔ کښې دَ هرچا سره


ليکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمد يوسف بنوري ټاؤن کراچی

(ساکن خوره بانډه مردان)

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زړۀ کښې مينه ساته دَ حضور ﷺ خامخا
زړۀ کښې ستا دې وی تل اعلا نُور خامخا

دا په ژوند ضروری.......هر بشر لره نن
دا په ژوند ضروری .........هريو در لره نن
تل دې تا سره وی دا ضرور خامخا
زړۀ کښې ستا دې وی تل اعلا نُور خامخا

بيا تورتم به نۀ وی ...هيڅ څۀ غم به نۀ وی
درد اَلَمْ به نۀ وی ...هيڅ څۀ غم به نۀ وی
زڈ کُول ئې ممنوع ... .کړۀ منظور خامخا
زړۀ کښې ستا دې وی تل اعلا نُور خامخا

دَ محشر کاميابی ........په دې نورسره تل
دَ هردر کاميابی .......... په دې نور سره تل
ورسره کړۀ قراٰن مَل دَستور خامخا
زړۀ کښې ستا دې وی تل اعلا نُور خامخا

دا دي ستا شی نصيب ... اے احمده ! مدام
نور دي ستا شی نصيب ...دَ اسلام بنۀ تمام
نۀ پريږدی رنړا نُور يو مجبور خامخا
زړۀ کښې ستا دي وی تل اعلا نُور خامخا

ليکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

## (ساکن خوره بانډه مردان)

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چاچې چمن دَ خپل جانان ﷺ اُوليدهٔ
هغه جنت سَم دَ جهان اُوليدهٔ
حسين منظر لرى مدام دلته کښې
خوند کړى د هغې درکلام دلته کښې
خوشبودا درلرى مدام دلته کښې
په کښې درود سره سلام دلته کښې
چا چې دَ وطن دَ قدردان اُوليدهٔ
هغه جنت سَم دَ جهان اُوليدهٔ
په کښې اصحابؓ دَ پيغمبر ﷺ سره دى
په کښې اصحابؓ دَ خپل دلبر سره دى
په کښې اصحابؓ خير البشر ﷺ سره دى
په کښې اصحابؓ دَ خپل رهبر سره دى
جانان ﷺ سره هغه دوستان اُوليدهٔ
هغه جنت سَم دَ جهان اُوليدهٔ

در دَ سکون دَ هر بشر هغه دے

رڼا رڼا در منوّر هغه دے

در دَ سکون په لر او بر هغه دے

خوښ دَ غریب او دَ افسر هغه دے

حسین وطن ئې عالیشان اُولیدۀ

هغه جنت سَم دَ جهان اُولیدۀ

ورته احمدعلی هم تلل غواړی نن

در دَ حضور ﷺ حسین لیدل غواړی نن

په کښې مدام پاتې کیدل غواړی نن

ورته په مینه ډیر کتل غواړی نن

ما ئې دَ قدر هر بیان اُولیدۀ

هغه جنت سَم دَ جهان اُولیدۀ

لیکوال

## مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمدیوسف بنوری ټاؤن کراچی

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مدینه چې مې مسکن وی نور څۀ غواړم
مدینه چې مې مدفن وی نور څۀ غواړم
دَسکون سامان په کښې هرخوا ته پروت دے
دَ ژوندون سامان په کښې هرخوا ته پروت دے
زما ژوند به په امن وی نور څۀ غواړم
مدینه چې مې مسکن وی نور څۀ غواړم
هر طرف ته خوشحالي چې راسره وی
هر طرف ته خوشبوئي چې راسره وی
چې مې کور هغه ګلشن وی نور څۀ غواړم
مدینه چې مې مسکن وی نور څۀ غواړم
معطر چې هر طرف دَ مدینې وی
معطر چې هر طرف د دې حصې وی
معطر به مې بدن وی نور څۀ غواړم
مدینه چې مې مسکن وی نور څۀ غواړم

تيرې نۀ به وی زما نه ګير چاپيره
دَ هر غم قصه به وی زما نه هيره
نورانی به زما تن وی نور څۀ غوارم
مدينه چې مې مسکن وی نور څۀ غوارم
دَ مولا نه تمنا لرمه دلته
زۀ احمدعلی دُعا لرمه دلته
چې مې کور هغې چمن وی نور څۀ غوارم
مدينه چې مې مسکن وی نور څۀ غوارم

ليکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

(ساکن خوره بانډه مردان)

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زندګی زندګی مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ ﷺ

زندګی زندګی ده زما ده زما
قیمتی قیمتی لری هر یو ادا
زندګی زندګی ده زما ده زما

زندګي ده زمونږ دا منو دلته تول
په اُصولو د دُوی دا ژوندون دی تیرول
زندګی زندګی دَ هرچا دَ هرچا
زندګی زندګی ده زما ده زما

دَ سکون ذریعه مونږ خبر یُو په دې
ورسره ورسره منوَر یُو په دې
خوشبوئی ، خوشبوئی دَ عقبیٰ دَ دُنیا
زندګی زندګی ده زما ده زما

دَ بدلون ذریعه ، وسیله دَ جنت
دَ بدلون ذریعه وسیله دَ عزت

ښه عطا ښه عطا دَ مولا دَ مولا

زندګی زندګی ده زما ده زما

بهترين ښه اُسوه ، ښه ښکاره حقيقت

هرحصه دَ نبی ﷺ دَ سيرت تول صفت

داسې تول به منی ، ښه اعلا ښه اعلا

زندګی زندګی ده زما ده زما

هرګفتار ئې شيرين هر طرف ته تمام

اے احمده ! حسين لري هر يو کلام

بهترين ئې نامه ، ښه درنه ئې وينا

زندګی زندګی ده زما ده زما

ليکوال

## مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوری ټاؤن کراچی

(ساکن خوره بانډه مردان)

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هغې سترګو کښې سکون په هر مکان وی
چې ليدلې ئې وطن دَ خوږ جانان ﷺ وی
هغه کله په تکليف کښې په عَالَم وی
مخامخ ورته چې در دَ اطمينان وی
راحتونه ورسره مدام په زړهٔ وی
چې په زړهٔ کښې ئې آقا نبی سلطان ﷺ وی
هيڅ کله به دَ بل چا بيا سوچ اُونکړی
چې په خيال کښې ئې محبوب د دوجهان وی
خوشبوئی به ئې له تن نه جُدا نه شی
ورسره چې دَ حضور ﷺ ښکلې فرمان وی
خُلهٔ به هر ساعت خوږه لری دُنيا کښې
چې په ژبه ئې حديث وی يا قرآن وی
په ژوندون په تېرې نه وينی هيڅ کله
په حضور ﷺ پسے چې سيد ها نيغ روان وی

# شيطانانو نه په امن وی احمده!
# رهنما چې ئې نبی اٰخرزمان ﷺ وی

ليکوال

## مولانا احمدعلي مرداني

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

## (ساکن خوره بانډه مردان)

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قرآن سره په خوا کښې حديثونو سره خوا کښې
دا داسې ده چې ته ئې دَ ګلونو سره خوا کښې
قرآن سره نزدې چې وی محبوب به دَ اللّٰه وی
مئين به په اللّٰه وی او مئين په آقا ﷺ وی
پکار دې دا ژوندون دَ اٰياتونو سره خوا کښې
قرآن سره په خوا کښې حديثونو سره خوا کښې
رڼا سره نزدې شوے چې قرآن ته ورنزدې شوے
دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ چې حق فرمان ته ورنزدې شوے
په دې سره به ته ئې نعمتونو سره خوا کښې
قرآن سره په خوا کښې حديثونو سره خوا کښې
تورتم نه به ئې لرے ، هريو غم نه به ئې لرے
کوے چې دَ قرآن او دَ حديث کله خبرے
په دې عمل به ته ئې جنتونو سره خوا کښې
قرآن سره په خوا کښې حديثونو سره خوا کښې

خوشبو خوشبو به تول‌ه په هر لور ستا زندګی وی
اخستي چې رڼا تا دَ قرآن او دَ نبی ﷺ وی
په دې به خامخا ئې راحتونو سره خوا کېښې
قرآن سره په خوا کېښې حديثونو سره خوا کېښې
احمده ! کمالات ، فائدې ئې ډيرې په جهان دی
عاقله خلق ټول دلته په حق پسے روان دی
په دې سره به ټول وی جماتونو سره خوا کېښې
قرآن سره په خوا کېښې حديثونو سره خوا کېښې

ليکوال

# مولانا احمدعلي مرداني

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

## (ساکن خوره بانډه مردان)

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ حضور ﷺ په لاره تلل نجات نجات دے
نورې لارې پرېښودل نجات نجات دے
دَ حضور ﷺ لمن نيوُل نجات نجات دے
حق سره مينه ساتل نجات نجات دے
نورې لارې پرېښودل دَ شيطانانو
ضروری دی پرېښودل په انسانانو
وسيله حق جوړوُل نجات نجات دے
دَ حضور ﷺ لمن نيوُل نجات نجات دے
نورې لارو کښې نه امن نه سکون شته
نه اُصول په کښې انسان له دَ ژوندون شته
حق سره ستا اُړيدل نجات نجات دے
دَ حضور ﷺ لمن نيوُل نجات نجات دے
حق سره ستا اُوريدل نجات نجات دے
نورو لارو کښې تورتم دے هر طرف ته
ورسره دَ ژوند هرغم دے هر طرف ته

حقیقت له حق منل نجات دے
دَ حضور ﷺ لمن نیوُل نجات نجات دے
نورې لارو کښې ښکلا دَ جهان نیشته
نورو لارو کښې ښُکلا دَ انسان نیشته
سَمه لاره دَ عَدَل نجات نجات دے
دَ حضور ﷺ لمن نیوُل نجات نجات دے
نورو لارو کښې احمده! وفا نیشته
نورو لارو کښې احمده! رښا نیشته
بل حق لارته رابلل نجات نجات دے
دَ حضور ﷺ لمن نیوُل نجات نجات دے
دَ رښا لاره کتل نجات نجات دے
دَ حضور ﷺ لمن نیوُل نجات نجات دے
دَ حضور ﷺ پوره منل نجات نجات دے
دَ حضور ﷺ لمن نیوُل نجات نجات دے

ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی
فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمدیوسف بنوری ټاؤن کراچی

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زمونږ رهنما دَ ټول جهان دے
هغه زما ځان، زما ايمان دے
هغه په نبيانو کښې سلطان ﷺ دے
هغه زما ځان، زما ايمان دے
حُسن دَ يوسف نه زيات ښه ډير لرې
نه ده صرف دا، صفات ښه ډير لرې
دَ زمکې حُسن هم دَ آسمان دے
هغه زما ځان، زما ايمان دے
ورسره حسين عرب عجم تمام
ورسره حسين دے دا عالَم تمام
اُوچت ئې له هر بشر نه شان دے
هغه زما ځان، زما ايمان دے
ربّ ورله ورکړے آخيري کتاب
داپه کتابونو کښې دے لاجواب

امتیاز صفت دَ حق برهان دے

هغه زما ځان، زما ایمان دے

ورسره سکون په مدینه کښې دے

ورسره سکون په هرحصه کښې دے

ذکر ئې سکون دے اطمینان دے

هغه زما ځان، زما ایمان دے

ورسره فضا بره خوشبو خوشبو

ورسره هوا بره خوشبو خوشبو

سیورې دَ رحمت دے مهربان دے

هغه زما ځان، زما ایمان دے

هر یوه وینا ئې ښه درنه درنه

هر یوه ادا ئې ښه درنه درنه

ورسره دَ نُور کرم باران دے

هغه زما ځان، زما ایمان دے

حق بره بیان دے دَ احمدعلي

دا په جاراعلان دے دَ احمدعلي

شفيع دَ محشر هم په ميدان دے

هغه زما ځان، زما ايمان دے

دَ کوثر ساقی دے قدردان دے

هغه زما ځان، زما ايمان دے

هر بشر ئې حُسن ته حيران دے

هغه زما ځان، زما ايمان دے

ليکوال

# مولانا احمدعلي مرداني

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

## (ساکن خوره بانډه مردان)

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

وطن دَ مدينې وے.... اودروے دَ جانان ﷺ

بيا څنګه به خفه شی دُنيا کښې يو انسان

وطن چې ښه اعلا وي

بيا نه وي څه غمونه

چمن چې دَ آقا ﷺوي

بيا نه وي څه غمونه

نصيب چې مدينه شی مؤمن ته په جهان

بيا څنګه به خفه شی دُنيا کښې يو انسان

مسکن چې مدينه شی

سکون په هرحصه شی

ژوندون په باغيچه شی

خوشبو شی ګلدسته شی

وطن مدينه غواړي.. غريب دے او کهٔ خان

بيا څنګه به خفه شی دُنيا کښې يو انسان

ژوندون کښې خوشحالې وي

وطن چې مدينه شي

روان په کاميابې وي

وطن چې مدينه شي

ژوندون کښې رڼا راشي له شر شي په امان

بيا څنګه به خفه شي دُنيا کښې يو انسان

درود او سلامونه

ددې وطن ښُکلا ده

په کښې عبادتونه

ددې وطن ښُکلا ده

قربان شمه قربان...... احمد له دې مکان

بيا څنګه به خفه شي دُنيا کښې يو انسان

ليکوال : **مولانا احمدعلي مرداني**

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

(ساکن خوره بانډه مردان)

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مهٔ اُوسيږه وروره ! له جانان ﷺ نه لرے لرے
اُوسه کهٔ اُوسيږے له شيطان نه لرے لرے
ګټه په کښې ده چې دَ جانان ﷺ سره په خواکښې ئې
ګټه په کښې ده چې قدردان سره په خوا کښې ئې
نه دے روا ژوند له حق قرآن نه لرے لرے
اُوسه کهٔ اُوسيږے له شيطان نه لرے لرے
تل دَ سعادت ذريعه دلته کښې کامله ده
تل دَ هدايت ذريعه دلته کښې کامله ده
نيشته هدايت نبی سلطان ﷺ نه لرے لرے
اُوسه کهٔ اُوسيږے له شيطان نه لرے لرے
دوی مونږ ته ښودلې هريو اَمر دَ اسلام دے
وحی دَ الله ده چې ئې کړے څه کلام دے
نشے ځکه دَ ايمان نه لرے لرے
اُوسه کهٔ اُوسيږے له شيطان نه لرے لرے
لاره ئې ښودلې مونږ ته نيغه دَ الله ده

مونږ ته ئې ښودلې دَ اسلام سره وفا ده
لرے له جانان ﷺ وي له رحمٰن نه لرے لرے
اُوسه کۀ اُوسيږے له شيطان نه لرے لرے

حُسن او ښکل اورسره دلته په جهان ده
داسې طريقه هريو ادا مې دَ جانان ﷺ ده
دين نه به وي لرے ،عاليشان نه لرے لرے
اُوسه کۀ اُوسيږے له شيطان نه لرے لرے

دا احمدعلی ټولو ته وائی ښه په جار
ځان په خپل نبی ﷺ کړے ښه پوره پوره نثار
نه شے له سکون له اطمينان نه لرے لرے
اُوسه کۀ اُوسيږے له شيطان نه لرے لرے

ليکوال

# مولانا احمدعلي مرداني

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچي

(ساکن خوره بانډه مردان)

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نعتونه په کتاب کښې

لعلونه په کتاب کښې

اُوچت لري لوئې شان

تعريف دَ خوږ جانان ﷺ

يادونه په کتاب کښې

نعتونه په کتاب کښې

ليکل ئې دی ثواب

لوستل ئې دی ثواب

وعظونه په کتاب کښې

نعتونه په کتاب کښې

خوشبو خوشبو تمامه

خوږېږی له سلامه

لفظونه په کتاب کښې

نعتونه په کتاب کښې

ورسره درودونه

دَ پاك نبي ﷺ نومونه

ګلونه په کتاب کښې

نعتونه په کتاب کښې

ادب سره ليکل دي

احمده ! دا وئيل دي

رازونه په کتاب کښې

نعتونه په کتاب کښې

.............

ليکوال : مولانا احمدعلي مرداني

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

ساکن يونيورستي روډ خوره بانډه مردان

0312-9818511/03208086524

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښار دَ جانان ﷺ مدينه
لرى لوئي شان مدينه
دا په جانان ښکلې ده
دا په جهان ښکلې ده
ګل دَ ريحان مدينه
ښار دَ جانان ﷺ مدينه
ښکلې يادونه لرى
ډير صفتونه لرى
دا ګلستان مدينه
ښار دَ جانان ﷺ مدينه
دا په سکون ياده ده
په ښه مضمون ياده ده
ځائي اطمينان مدينه
ښار دَ جانان ﷺ مدينه

ورته په تلو کښې مزه
تل ئې ليدو کښې مزه
زما ارمان مدينه
ښار دَ جانان ﷺ مدينه
دلته صديقؓ عمرؓ
دلته عثمانؓ حيدرؓ
ځائې دَ حسانؓ مدينه
ښار دَ جانان ﷺ مدينه
لکه دَ ګل خوشبوئی
دلته وی تل خوشبوئی
ځائې قدردان مدينه
ښار دَ جانان ﷺ مدينه
په کښې کهجورې ډيرې
دَ چا به نشی هيرې
وطن ودان مدينه
ښار دَ جانان ﷺ مدينه

خوشبو په تن بدن

احمده! ټوله ده نن

ځائې دَ امان مدينه

ښار دَ جانان ﷺ مدينه

ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

ساکن يونيورستی روډ خوره بانډه مردان

0312-9818511/03208086524

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مدینه خو مدینه ده دَ جانان ﷺ
ښه حسینه ښاریه ده دَ جانان ﷺ
خامخا ئې دیدن ئې اُوکړۀ مسلمانه!
خامخا ئې دیدن اُوکړه اے انسانه!
د عظمت اعلا نامه ده دَ جانان ﷺ
مدینه خو مدینه ده دَ جانان ﷺ
په سکون په کښې هر څوك هلته اُوسیږی
عاشقان ئې په دیدن کله مړیږی
کۀ دَ عائشې ؓ حجره ده دَ جانان ﷺ
مدینه خو مدینه ده دَ جانان ﷺ
سلامونه په حضور ﷺ په کښې مدام وی
یو حسین ښکلې منظر سحر ماښام وی
بهترینه تذکره ده دَ جانان ﷺ
مدینه خو مدینه ده دَ جانان ﷺ

تول اصحابؓ دَ خوشبوئې سره موجود دي

عاشقان احمده ! هلته په درود دي

دَ بقيع کۀ مقبره ده دَ جانان ﷺ

مدينه خو مدينه ده دَ جانان ﷺ

..............................

ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

ساکن يونيورسټی روډ خوره بانډه مردان

0312-9818511/03208086524

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلي په حضور ﷺ سره حسينه مدينه شوله
سم لکه جنت شو، دَ جنت يوه ټکړه شوله
يو وارې ته لاړ شه ورته، دَ سکون طالب کۀ ئې
يو وارې ته لاړ شه ورته دَ ژوندون طالب کۀ ئې
هغه مدينه په پاک نبی ﷺ سره درنه شوله
سم لکه جنت شو، دَ جنت يوه ټکړه شوله
هرطرف ته هلته کښې خوشبو دَ پيغمبر ﷺ به مدام
هرطرف ته هلته کښې خوشبو په هريو در به مدام
تانه لرے لرے دَ جهان هر يو خطره شوله
سم لکه جنت شو، دَ جنت يوه ټکړه شوله
تل محسوسوے به سَم جنت ته زۀ راغلم يم
تل محسوسوے به ځائې اُوچت ته زۀ راغلم يم
ډير به خوش نصيب وی چې په هغې درئې خپه شوله
ښکلي په حضور ﷺ سره حسينه مدينه شوله
دا وائی په جار درته احمدعلی سحر مابنام

غواړه دَ اللّٰه نه دَ ژوندون دغه خواږه تمام

دلته نه رڼا په هر طرف ښوره ښوره شوله

ښکلې په حضورﷺ سره حسينه مدينه شوله

.........................

ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوری ټاؤن کراچی

ساکن يونيورسټی روډ خوره بانډه مردان

0312-9818511/03208086524

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راغـے چې حضور ﷺ ، نو بدله دا نقشه شوله
دَ اسلام رڼا په هر طرف خوره وره شوله
لاړل هر طرف نه ظلمتونه دَ جهان پوره
ورسره بدل شو په دُنیا دغه انسان پوره
دَ هر چا په ژبه بس جاري يوه نامه شوله
راغـے چې حضور ﷺ ، نو بدله دا نقشه شوله
پريوتل بتان په زمکه ، دا ليدلي خلقو دي
پريوتو شيطان په زمکه ،دا ليدلي خلقو دي
ختمه دَ شيطان دَ شيطانت هره قصه شوله
راغـے چې حضور ﷺ ، نو بدله دا نقشه شوله
وحی دَ قرآن راغله حرا کښې دَ قرآن اول
وحی دَ رحمٰن راغله حرا کښې په جهان اول
پوره دَ رسول ﷺ دَ راتلو هغه يَو وعده شوله
راغـے چې حضور ﷺ ، نو بدله دا نقشه شوله

راوړلو جبرئيل امين پيغام رسول الله ﷺ ته دا
راوړلو جبرئيل حسين پيغام رسول اللّٰه ته دا
دَ رسالت ورسره تمامه سلسله شوله
راغــے چې حضور ﷺ ، نو بدله دا نقشه شوله
اقرا سره اُوشولو آغاز دَ حق كتاب كلام
اے احمده ! څوك چې وائي ډير لري ثواب مدام
ښكلې ورسره د دي دُنيا هره حصه شوله
راغــے چې حضور ﷺ ، نو بدله دا نقشه شوله
دَ نبوَت ورسره هم بنده دروازه شوله
راغــے چې حضور ﷺ ، نو بدله دا نقشه شوله

....................


## ليكوال : مولانا احمدعلي مرداني

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن كراچي

ساكن يونيورسټي روډ خوره بانډه مردان

0312-9818511/03208086524

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلي دوست دَ پاك سبحان زما نبی ﷺ
زما دين زما ايمان زما نبی ﷺ
په آخر کښې دے راغلے په عالَم
په نبيانو کښې له ټولو مقدم
ثانی نه لری دُنيا کښې په کرم
سلطانانو کښې سلطان زما نبی ﷺ
ښکلي دوست دَ پاك سبحان زما نبی ﷺ
په سيرت سره کامل پوره حسين
په ګفتار پوره صادقه ښه شيرين
په لقب سره امين هغه يٰسين
رهنما دَ ټول جهان زما نبی ﷺ
ښکلي دوست دَ پاك سبحان زما نبی ﷺ
تل په دوی سره خوشبو ده مدينه کښې
تل په دوی خوشبو ده هر حصه کښې

دا منمه هم خوشبو لري نامه کښې
په اخلاقو تول قرآن زما نبی ﷺ
ښکلې دوست دَ پاك سبحان زما نبی ﷺ

حفاظت لره کافی له جهنم
حفاظت لره کافی له هر يو غم
حفاظت لره کافی له هر تورتم
تل سکون ښه اطمينان زما نبی ﷺ
ښکلې دوست دَ پاك سبحان زما نبی ﷺ

ملغلرې ئې خبرے دَ جهان
ډير دَ قدر ئې دی دلته تول ياران
دَ احمدعلی په دې پوره ايمان
له هر چا نه راته ګران زما نبی ﷺ
ښکلې دوست دَ پاك سبحان زما نبی ﷺ

ليکوال : **مولانا احمدعلی مردانی**

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

ساکن يونيورستي روډ خوره بانډه مردان

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مدينه ښار ښکلې وطن دَ پيغمبرﷺ دے
ورته ورتلل غواړمه ،دامې ارمان په لړاوبر دے
په وطنونو کښې وطن دا معطّر دے
ورته ورتلل غواړمه، ارمان زما شام وسحر دے
ورله ورکړے ربّ لوئې شان دے
نسبت ورسره دَ جانانﷺ دے
په کښې نازل دَ ربّ قرآن دے
په هر محل دَ نُور باران دے
حضورﷺسره هر يو مقام ښۀ معطر دے
ورته ورتلل غواړمه ،دامې ارمان په لړاوبر دے
په کښې دَ پاك نبیﷺ ياران دی
لکه دَ ستورو دَ اسمان دی
تول ښۀ په سچه عاشقان دی
دَ حضورﷺ خوښ په هر مکان دی

دَامن ځائې دے وطن دَا دَ ابوذرؓ دے
ورته ورتلل غواړمه ،دامې ارمان په لړاوبر دے
په کښې حجره دَ عائشېؓ ده
دلته خوشبو په هر حصې ده
په کښې خوشبو هم دَ روضې ده
يو تېوله هم دَ صُفې ده
توله خوشبو دا دَ روضې ده
هلته ساکن دے چې ئې نن بنۀ مُقدر دے
ورته ورتلل غواړمه ،دامې ارمان په لړاوبر دے
احمدعلی داسې دُعا کړي
ربّ ته سوالونه التجا کړي
غواړي دَتلو دُعا بيا بيا کړي
قبوله دا کۀ پاك اللّٰه کړي
راته په سترګو کښې هروخت هغه منظر دے
ورته ورتلل غواړمه ،دامې ارمان په لړاوبر دے
ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په مُرسلانو کښې امام دے پيغمبر ﷺ دے
ورسره مينه کوُم ... زما محبوب زما دلبر دے
ورسره مينه کړم مدام
سبب زما دے دَ آرام
باعث دَ هر سکون تمام
دَ امامانو دے امام
جهان په نور سره دَ دوی تول منوَر دے
ورسره مينه کوُم ... زما محبوب زما دلبر دے
ورته صادق وائی جهان
امين منلے هرانسان
نازل په دوی پوره قرآن
کلام حسين دَ پاك سبحان
تسکين دَ زړونو په دُنيا کښې دَ نظر دے
ورسره مينه کوُم ... زما محبوب زما دلبر دے
خاتم دَ تولو مرسولانو
خاتم په جمع دَ نبيانو
خبر شے تولو مؤمنانو
خبر شے اے مسلمانانو

دا مې ایمان دے رهبرانو له رهبر دے
ورسره مینه کوُم ... زما محبوب زما دلبر دے
دَ کائنات ښُکلا تمام
هغه نبي خیر الانام ﷺ
په دوی درود وایه سلام
عمل جاري ساته مدام
اعلا عمل احمده! دا دَ هر بشر دے
ورسره مینه کوُم ... زما محبوب زما دلبر دے

لیکوال : مولانا احمدعلي مرداني
فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمدیوسف بنوري ټاؤن کراچی
ساکن یونیورستي روډ خوره بانډه مردان
0312-9818511/03208086524

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راځے چې ځو دَ محمد رسول الله ﷺ کلی ته
ټول اُوسيدولره په جمع دَ آقا ﷺ کلی ته
په کښې انوار چې دَ رسول الله ﷺ په هر مکان دی
په کښې انوار چې دَ رسول الله ﷺ ښکاره عيان دی
تياري اُوکړے راځے ځو هغې بالا کلی ته
راځے چې ځو دَ محمد رسول الله ﷺ کلی ته
په کښې خوشبو په هر مکان به ملاويږی مونږ ته
ښکلا ، سکون ښه اطمينان به ملاويږی مونږ ته
راځے راځے چې ځو په جمع ښه اعلا کلی ته
راځے چې ځو دَ محمد رسول الله ﷺ کلی ته
نه ظلمتونه په کښې شته دغه دعویٰ لرمه
نه څۀ غمونه په کښې شته دغه دعویٰ لرمه
خامخا تلل پکار دی مونږ له دې رڼا کلی ته
راځے چې ځو دَ محمد رسول الله ﷺ کلی ته
دا دَ صديقؓ ، دا د عمرؓ دا دَ عثمانؓ کلے دے

دا دَ علی دَ ابو ذرؓ او دَ سلمانؓ کلے دے
راځے چې ځو دَ اولياء دَ علماء کلی ته
راځے چې ځو دَ محمد رسول اللهﷺ کلی ته
نسبت لری ډير زيات اُوچت دا حقيقت دلته دے
نسبت لری ډير دَ عزت دا حقيقت دلته دے
ډله يو جوړه کړے چې ځو دَ مجتبیٰ ﷺ کلی ته
ټول اُوسيدو لره په جمع دَ آقا ﷺ کلی ته
دا تمنا دَ هر مؤمن بشر په زړهٔ دلته وی
مدام دُعا دَ هر مؤمن بشر په زړهٔ دلته وی
يو ځلے تلل غواړی هرڅوك دَ مصطفیٰ ﷺ کلی ته
ټول اُوسيدو لره په جمع دَ آقا ﷺ کلی ته
دَ رب نه سوال کوُم سحر وی کهٔ ماښام دلته کښې
غواړم ديدن مدام د هغې خاص مقام دلته کښې
احمد دُعا کوی چې لاړشی دَ طٰهٰ ﷺ کلی ته
ټول اُوسيدو لره په جمع دَ آقا ﷺ کلی ته

## ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دُنيا كښې هرعاشق وي خپل دلبر پسې خفه
چې څنګه يمه زۀ خير البشر ﷺ پسې خفه
ګواه اُوسه په دې باندې عاشق چې وي پو هيږي
محبوب چې ترينه لرې وي ، دا زړۀ نه قلاريږي
سكون پسې خفه وي په سحر پسې خفه
دُنيا كښې هرعاشق وي خپل دلبر پسې خفه
رڼا نه لرې لرې چې څوك دلته په جهان شي
ژوندون به خامخا هغه ته دلته كښې ډير ګران شي
رڼا پسې خفه وي په رهبر پسې خفه
دُنيا كښې هرعاشق وي خپل دلبر پسې خفه
چې لرې لرې دلته په جهان وي له محبوب
چې لرې لرې دلته په جهان وي له مطلوب
محبوب پسې خفه حسين قمر پسې خفه
دُنيا كښې هرعاشق وي خپل دلبر پسې خفه

عاشق دَ پيغمبر ﷺ له دې نه دلته کښې خبر دے
عاشق هر يو بشر له دې نه دلته کښې خبر دے
عاشق دَ پيغمبر ﷺ وی پيغمبر ﷺ پسے خفه
دُنيا کښې هرعاشق وی په دلبر پسے خفه
جُدا چې دَ رسول اللّٰه ﷺ نه لرے په وطن وی
جُدا چې دَ رسول اللّٰه ﷺ نه لرے په مسکن وی
عاشق سړے مدام وی هغې در پسے خفه
دُنيا کښې هرعاشق وی په دلبر پسے خفه
چې چاته محسوسيږی خوشبوئی دَ دين اسلام
چې چاته محسوسيږی خوشبوئې پوره تمام
عاشق دَ خوشبوئې وی مشک عنبر پسے خفه
دُنيا کښې هرعاشق وی په دلبر پسے خفه
عاشق چې دَ نبی ﷺ وی او دَمينې دعويدار وی
عاشق چې حقيقی وی او دَ مينې دعويدار وی
صديقؓ پسے هغه وی په عمرؓ پسے خفه
دُنيا کښې هرعاشق وی په دلبر پسے خفه

يادونه دَ حضورﷺ لري په زړۀ کښې چې تمام
بغيرله دې نه دۀ ته بيا سکون نه وی آرام
احمده ! هرعاشق په دې منظر پسے خفه
دُنيا کښې هرعاشق وی په دلبر پسے خفه

ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی
فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوری ټاؤن کراچی
ساکن يونيورستی روډ خوره بانډه مردان
0312-9818511/03208086524

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مسکن دَ مديني دے يو سبب دَ خوشحالي
محل دے په دُنيا ډير دَ ادب دَ خوشحالي
په دي وجه چې هلته کښې زمونږه پيغمبر ﷺ دے
زمونږ دَ زړهٔ سکون دے ، افسرانو کښې افسر دے
غوره په مخلوقاتو کښې له ټولو نه بهتر دے
غوره ورسره هريو څيز دُنيا کښې د دي در دے
په دي وجه عظيم دے دا مکتب دَ خوشحالي
محل دے په دُنيا ډير دَ ادب دَ خوشحالي
ساکن په کښې ياران دی ښکلي ښکلی دَ نبی ﷺ
صديقؓ سره عمرؓ دے هم عثمانؓ دے هم عليؓ
عاشق چې دَ نبی ﷺ وی ورسره مينه لري
مقام او فضيلت د دي محل پوره مني
منلے دا مقام دے ټول عرب دَ خوشحالي
محل دے په دُنيا ډير دَ ادب دَ خوشحالي
حجره دَ عائشي بي بي هلته عظيم مقام
تل ځائي په مدينه کښې د خوشبو دے دَ آرام

هرځائې په مدينه کښې دَ ادب او احترام
هرځائې په مدينه کښې نورانی پوره تمام
نزدې ورسره هلته ورځ او شپ دَ خوشحالۍ
محل دے په دُنيا ډير دَ ادب دَ خوشحالۍ

په خوا کښې د روضې دَ مصطفیٰ ﷺ جُدا مزه
په خوا کښې دَ روضې دَ خپل آقا ﷺ جُدا مزه
په خوا کښې دَ روضې خوشبو رڼا جُدا مزه
په خوا کښې دَ روضې حُسن ښکلا جُدا مزه
درود سلام سبب دے بل په لب دَ خوشحالۍ
محل دے په دُنيا ډير دَ ادب دَ خوشحالۍ

افضل غوره منمه هغه ځائې دَ سعادت
مقام دَ رحمتونو دے احمده! هر ساعت
ورسره دَ رسول الله ﷺ دے ښۀ پوره نسبت
ځکه هغې مقام موندلے دلته دا عزت
هرڅوك د هغې در په طلب دَ خوشحالۍ
محل دے په دُنيا ډير دَ ادب دَ خوشحالۍ

# نظمونه

## (دَ مسئله ختمِ نبوت باره کښې)

# ختمِ نبوت زنده باد

ختمِ نبوت زنده باد ، ختمِ نبوت زنده باد
سبق یاد کړے په اولاد ، سبق یاد کړے په اولاد
دي باندي ایمان لرم
دي باندي یقین لرم
دا دلته بیان لرم
حق ګفتار حسین لرم
هر چا ته دي تل وی یاد ، هرچا ته دي تل وی یاد
ختمِ نبوت زنده باد ، ختمِ نبوت زنده باد
ښکلي عقیده زما
دَ حق دین حصه زما
تل مدام نعره زما
دَ محشر توښه زما
دَا منم د دین بُنیاد ، دا منم دَ دین بُنیاد
ختمِ نبوت زنده باد ، ختمِ نبوت زنده باد
ثابت له قرآن نه دا
له نبی سلطان ﷺ نه دا

دَ اجماع بیان نه دا

راغلے رحمٰن نه دا

ختموُی له ژوند فساد ، ختموُی له ژوند فساد

ختمِ نبوت زنده باد ، ختمِ نبوت زنده باد

دَ احمد تمام گفتار

ډیرشیرین دے ډیرڈ کار

وایه وایه بار بار

شه په دین قربان نثار

دا دَ ژوند مقصد مراد ، تل دَ ژوند مقصد مراد

ختمِ نبوت زنده باد ، ختمِ نبوت زنده باد


ليکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمدیوسف بنوری ټاؤن کراچی

# ختمِ نبوت زنده باد

سبق زده کړه په اولاد ، سبق زده کړه له اُستاد

ختمِ نبوت زنده باد ، ختمِ نبوت زنده باد

دا نعره دَ خاص او عام

ښکلې بهترين کلام

دا نعره دَ هر امام

خوند کوی هرخوا مدام

مشك عنبر خوشبو دَ باد ، مينه غوارې اتحاد

ختمِ نبوت زنده باد ، ختمِ نبوت زنده باد

حق دَ شريعت سبق

ختمِ نبوت سبق

دا دَ پاك حضرتؐ سبق

دروند په هر صفت سبق

دَ اللّٰه کرم امداد ، دَ باطل خلاف جهاد

ختمِ نبوت زنده باد ، ختمِ نبوت زنده باد

دي باندې ايمان لازم

تل په مسلمان لازم

منل په جهان لازم

منل دَ قراٰن لازم

شيطان ورسره برباد ، ختم ورسره فساد

ختمِ نبوت زنده باد ، ختمِ نبوت زنده باد

دي سره ښُکلا د دين

دي سره بقا د دين

دا حقه وينا د دين

دا وينا صفا د دين

زړونه ورسره آباد ، زړونه ورسره دی ښاد

ختمِ نبوت زنده باد ، ختمِ نبوت زنده باد

دا دَ اُخرت توبښه

ډيره دَ عزت توبښه

واخله هرساعت توبښه

دا د شريعت توبښه

ګټل دي دَ خپل مراد ، شته دے په ثبوت ارشاد

ختمِ نبوت زنده باد ، ختمِ نبوت زنده باد

دَ احمد وينا تمام

ډيره ښه دَ احترام

دي کښې ښه اعلا پيغام

دا رڼا دَ خاص او عام

دين لره زمونږ بُنياد ، دي باندې شته ډير مواد

ختمِ نبوت زنده باد ، ختمِ نبوت زنده باد

ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

# عقیده ختمِ نبوت زنده باد

اوس چې دعویٰ دَنبوت کوی کذّاب دے
په محمد ﷺ سره بند شوې هغه باب دے
ښکاره بیان دَا دَ حضور ﷺ دَ رسالت دے
دا امتیاز دے ، دَ حضور ﷺ اعلا صفت دے
چې مخالف ئې عقیده ده نو خراب دے
په محمد ﷺ سره بند شوې هغه باب دے
غوره له تولو ، اٰخرین دے محمد ﷺ
یاد په خاتم النبیین ﷺ دے محمد ﷺ
ښکاره مفهوم ، امر دَ سورتِ احزاب دے
په محمد ﷺ سره بند شوې هغه باب دے
مسئله دغه ده ثابت له احادیث نه
عقیده دغه ده ثابت له احادیث نه
دفاع کول ئې ضروری ، په کښې ثواب دے

په محمد ﷺ سره بند شوې هغه باب دے
خبر له دې نه ټول عجم دے هم عرب دے
سبق زمونږه دلته دے دَ هر مکتب دے
سبق زمونږه موجوده ددې نصاب دے
په محمد ﷺ سره بند شوې هغه باب دے
شك په کښې نيشته دا بيشکه حق وينا ده
دَ رسالت سلسله ختمه په طٰه ﷺ ده
ښکاره مفهوم احمده ! دا دَ حق کتاب دے
په محمد ﷺ سره بند شوې هغه باب دے

ليکوال

# مولانا احمدعلي مرداني

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

(ساکن خوره بانډه مردان)

# عقيدۀ ختمِ نبوت زنده باد

بنده شوې سلسله دَ رسالت ده؟

بنده دا په محمد نبی حضرت ﷺ ده

بنده شوې سلسله دَ نبوت ده؟

بنده دا په محمد نبی حضرت ﷺ ده

عقيده زمونږ ښکاره ،زمونږ دَ ټولو

دَورو لويو په جمع دَ همځولو

مبارکه عقيده دا هر ساعت ده

ذريعه په هر طرف دَ هدايت ده

بنده شوې سلسله دَ نبوت ده؟

بنده دا په محمد نبی حضرت ﷺ ده

ترقيامته پورې نيشته دے راتلل

يو نبی له ، دَ حضورﷺنه پس منل

متفقه عقيده د دې اُمت ده

وسيله په هر طرف دَ سعادت ده

بنده شوي سلسله دَ نبوت ده؟
بنده دا په محمد نبى حضرت ﷺ ده
بنده شوي نورانى دا دروازه ده
په حضور ﷺ سره تمام دا سلسله ده
ذريعه دَ كاميابي ده دَ جنت ده
وسيله دَ كاميابي دَ آخرت ده
بنده شوي سلسله دَ نبوت ده؟
بنده دا په محمد نبى حضرت ﷺ ده
محمد رسول اللّٰه ﷺ خيرالانام
آخرين دے په صفت سره مدام
دا خبره دَ حضور ﷺ دَ فضيلت ده
دا خبره حق ثابت له پاك سيرت ده
بنده شوي سلسله دَ نبوت ده؟
بنده دا په محمد نبى حضرت ﷺ ده
ذكر شوي دَ احمدعلى وينا ده
عقيدوكښې بُنيادى عقيده دا ده

عقيده اهمه تل دَ شريعت ده
ترقيامته داسې دا په هرصورت ده
بنده شوې سلسله دَ نبوت ده؟
بنده دا په محمد نبی حضرت ﷺ ده

ليکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

(ساکن خوره بانډه مردان)

# دَ ختمِ نبوت دفاع ...... نظم

مونږ کار به خامخا کوُو دَ ختمِ نبوت
دفاع به دَ آقا ﷺ کوُو دَ ختمِ نبوت
مئين يوُ په آقا ﷺ په محمد رسول الله ﷺ
د دې خبرې اُوسه تۀ پوره پوره ګواه
بيان به ښه صفا کوُو دَ ختمِ نبوت
دفاع به دَ آقا ﷺ کوُو دَ ختمِ نبوت
مئين يوُ ټول په جمع مونږ په دغې عقيده
زمونږه ده اهمه بُنيادی دَ دين حصه
خبره به بيا بيا کوُو دَ ختمِ نبوت
دفاع به دَ آقا ﷺ کوُو دَ ختمِ نبوت
قران کښې ذکر شوے ښه پوره پوره عيان
حديثو کښې راغلې دا خبره په جهان
په جار، پټه وينا کوُو د ختمِ نبوت
دفاع به دَ آقا ﷺ کوُو دَ ختمِ نبوت

حضور ﷺ نه پس راتلې نشی قیامت پورې نبی
مؤمن چې وی خبره خامخا به دا منی
حسين خبره دا کوُو دَ ختمِ نبوت
دفاع به دَ آقا ﷺ کوُو دَ ختمِ نبوت
اشعارپه دې ليکلی بره تول احمدعلی
دا کار دَ هربشردے چې ايمان په زړۀ لری
پرچار دَ دين اعلا کوُو دَ ختمِ نبوت
دفاع به دَ آقا ﷺ کوُو دَ ختمِ نبوت
دفاع دَ خپل خيرخوا کوُو دَ ختمِ نبوت
دفاع به دَ آقا ﷺ کوُو دَ ختمِ نبوت


ليکوال

## مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمديوسف بنوري ټاؤن کراچی

(ساکن خوره بانډه مردان)

# دَ ختمِ نبوت ښکلې عقيده

................... نظم ...............

دا ختمِ نبوت دَ حضورﷺ شان دے بيشکه
په دې سره باقی زمونږ ايمان دے بيشکه
په سورتِ احزاب کښې دا اهمه مسئله ده
په ښکلې حق کتاب کښې دا اهمه مسئله ده
اعلا په دليلونو کښې قراٰن دے بيشکه
دا ختمِ نبوت دَ حضورﷺ شان دے بيشکه
قراٰن پسې نمبر دَ مصطفٰیﷺ دَ احاديث دے
قراٰن پسې نمبر ښکاره صفا دُنيا دَ احاديث دے
ډير زيات اُوچت دَ پاك نبیﷺ فرمان دے بيشکه
دا ختمِ نبوت دَ حضورﷺ شان دے بيشکه
دليل وروسته دريم ثبوت دَ پاره دَ اجماع دے
منکر ئې هرطرف ته ښه ذليله دے رُسوا دے
هريو دليل ښکاره پوره عيان دے بيشکه

دا ختمِ نبوت دَ حضور ﷺ شان دے بیشکه
احمده! مسئله ډیره اهمه دلته دا ده
دَ شك ګنجائش نه لري واضحه ده صفا ده
منونکي ئې کامیاب په هر مکان دے بیشکه
دا ختمِ نبوت دَ حضور ﷺ شان دے بیشکه

ليکوال

## مولانا احمدعلي مرداني

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمدیوسف بنوري ټاؤن کراچی

(ساکن خوره بانډه مردان)

# مسئله ختمِ نبوت

## ..........نظم.........

ښکلې دَ ختمِ نبوت مسئله
اهمه دا دَ شريعت مسئله
ياده هرچاته دې دا تل دلته وى
ټولې دُنيا ته دې دا تل دلته وى
زمونږ دَ دين دَ حفاظت مسئله
ښکلې دَ ختمِ نبوت مسئله
ثابت قرآن نه حديثونو نه دا
ثابت د لويو کتابونو نه دا
زمونږ دَ دين دَ فضيلت مسئله
ښکلې دَ ختمِ نبوت مسئله
اول اجماع دَ صحابهؓ په دغې
اجماع اجماع درنه درنه په دغې
دَ پاك حضور ﷺ هم دَ صفت مسئله
ښکلې دَ ختمِ نبوت مسئله

قربان له دي نه اولياء دَ جهان

احمده ! ښکلي علماء دَ جهان

عقيده داسي دَ عظمت مسئله

ښکلي دَ ختمِ نبوت مسئله

..................................


ليکوال : مولانا احمدعلی مردانی

نائب صدر آل پرائمری ټیچرز ایسوسی ایشن تحصیل مردان

ساکن یونیورستی روډ خوره بانډه مردان

0312-9818511/03208086524


★★★★★★★★★★★★

تمت بحمد اللّٰه تعالیٰ وبعونهٖ

ربّنا تقبل منّا انك انت السّمیع العلیم وتُب علینا انك

انت التوّاب الرّحیم .........وصلی اللّٰه تعالیٰ علیٰ

خیرِ خلقهٖ محمد وآله واصحابه اجمعین